# پښتونخوا

## د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

۲۰۰۶ کال ۲۸مه ګڼه

# Pakhtoonkhwa

Jahrg./vol: 2006/20 nummer/ no: 28

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA
## Pakhtunkhwa

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN
Paschtunkhwa/Afghanistan

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL
DEMOCRATIC PARTY (PSDP)
Pashtunkhwa/Afghanistan

www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net

# پښتونخوا

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

PSDP

اته ويشتمه ګڼه، ۲۰۰۶ع کال
شلم کال

Jahrg./vol: 20
nummer/ no: 28

# PASCHTUNCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

# PSDP

www.pashtoonkhwa.com



## لړليک


| سرليک | ليکوال | مخګڼه |
|---|---|---|
| له محمد افضل خان لالا سره مرکه | سيد مدثر شاه | ۲ |
| د خپرني لاربنود | کبير ستوری | ۸ |
| ډاکتر کبير ستوری | ډاکتر شېر زمان طايزی | ۱۱ |
| د پښتو او پښتونولۍ د ملي قافلې سرکښ | محمد شېرين ګرديوال | ۱۴ |
| د بلوچستان په زيارت ښار کې | | ۱۶ |
| د خير ښېګړو سمبول | مبارز ځاپی | ۲۴ |
| پښتون امن جرګه | | ۲۷ |
| نوې زرې | خبريال: نسيم خان ستوری | ۳۰ |
| يو څو خواږه يادونه | هدايت بنګش | ۴۷ |
| غم دپسه غم | ظفر کريمي | ۵۱ |
| ستوری ماما لټوم (شعر) | عزيز سرشار | ۵۳ |
| د (PSDP) اعلاميه | | ۵۴ |


خپروونکي: د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند پښتونخوا/ افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Pashtunchwa/ Afghanistan
Publisher: Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)
Pashtoonkhwa/ Afghanistan

ذمه وار
V.S.I.P
Responsible for contents
د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند
(PSDP)
KIEBITZWEG 12
50389 Wesseling
Germany
Tel.: 0049 2236 3190445
Fax: 0049-2236/841930
E-mail: psdp@gmx.net

Redaktion:
Editorial Board:
Gul Ghutai Kunarai
Ali Khan Mahsood
Hidayat Bangash
Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Haji Nasir Stori

د خپروني جرګه:
ګل غوټۍ کونړۍ
علي خان محسود
هدايت بنګښ
مبارز ځاپی
عزيز سرشار
حاجي نصير ستوری

E-mail: psdp@gmx.net

اروا ښاد "ستوري" هېر نه کړو او د خپلو يادونو له ذهنونو څخه يې ونه باسو. د اروابښاد انساني ارخ ته، چې د خير او ښېګڼو، ورورولۍ او د ټول پښتون ولس د يو موټي کېدلو په لياره کې يو غټ سمبول ګڼل کېږي، د تل لپاره د منبت، د درناوي سره سم د هغه د ياد نمانځنه هم کوو.

په داسي حال کې چې پښتانه لا هم د ژبې، فرهنګ، اقتصاد او خپلواکۍ له پلوه د پرديو يرغلونو لاندې سلګۍ وهي او لا هم پښتانه له پوهنيزې، روزنيزې او د خداى ورکړيو شتمنيو څخه بې برخې، وېشلي، تالا او ترغۍ پاتې دي.

دغه لامل زموږ هر پښتون او پښتنې نه غواړي، چې د يو موټي کېدلو، پخپل هېواد کې د خپلې ژبې او فرهنګ د واک تر لاسه کولو او په دې توګه د اقتصادي او سياسي خپلواکۍ د لاسته راوړلو په لياره کې چې د اروابښاد "ستوري" سوچه ارمان ګڼل کېده، لا له پخوا نه زيات هلې ځلې وکړي، څو د زماني د غوښتنو سره سم خپل هېواد او ولس د ښېرازۍ او سمسورتيا په درشل کې ودرولى شو.

دغې موخې ته د رسېدلو په لياره کې دغه څو ټکي بايد په پام کې ولرو:

۱ـ د ملت د جوړوني، روزني او پالنې په هوډ پخپلې ملي ژبې باندې سمباله، يو غښتلي سياسي ګوند کې يو موټى او څواکمنه کېدل.

۲ـ په سيمه کې د هغه واکمنه دود پاله سياست بنسټ له بنسټه نړول، چې غواړي پښتانه لا پسې وېشلي، تالا او ترغۍ وساتي.

۳ـ د هغه ذهنيت پر ضد کلکه مبارزه کول، چې غواړي پښتانه د خپلې پښتو ژبې پر ځاى د اردو او پارسي ژبو په لوري بوځي.

که غواړو، چې په يو ويشتمه پېړۍ کې ژوندي پاتې شو، دغه پورتني درې ټکي، چې د اروابښاد "ستوري" د ژوند تګ لياره هم ګڼله کېدله د خپل ژوند د تګ لیارې په توګه وټاکو او پرې ټينګ ودرېږو.

نور نو تاسې او د ستاسو سياسي پوهه.
برى د لوى خداى له لوري دى.





# پښتون امن جرګه

دوشنبې په ورځ په ۲۰ نوامبر ۲۰۰۷ نېټه دعوامى نيشنل پارټۍ (اى اين پي) په نوښت او غوښتنه په پيښور کښې د باچاخان په مرکزکې پښتون امن جرګه رابلل شوې وه چې په کښې د بيلا بيلو سياسى او مذهبى ګوندونو مشرانو او استازو، قومى او قبائيلى مشرانو، فنکارانو، هنرمندانو اوليکوالو ګډون اوتقريرونه وکړل جرګې ته د تقرير په وخت په قومى اسمبلۍ کښې دمخالفې ډلې مشر اودمتحده مجلس عمل سترسکتر ښاغلى مولانا فضل الرحمان وويل چې دپاکستان او افغانستان پښتانۀ يو وجود اويوه وينه ده اوددوى ترمنځ که هرڅو دبيلتون کرښې راښکل شويدى چې دوى ديو بل نه جدا وساتى خوولې دا ټول په خپلو کښې ديو کور خلق دى او هيڅوک يې جدا کولى نه شي. دپښتنو امن جرګې ته چې صدارت يې ښاغلى خان لالا محمد افضل خان کاوه دپښتونخوا ملى عوامى پارټۍ مشر ښاغلى محمود خان اچکزى، دعوامى نيشنل پارټۍ مرکزى صدر سينيټر اسفنديارولى خان، د اى اړ دى سترسکتر ښاغلى ظفر اقبال جګړا، دجماعت اسلامى صوبائى امير او پخوانى صوبائى سينئير وزير ښاغلى سراج الحق، ښاغلى نواب محمد اياز خان جوګيزى، ښاغلى شهاب الدين خان، ښاغلى درياخان اپريدى، دپى پى پى صوبائى صدر ښاغلى رحيم داد خان، ښاغلى سخى مرجان، ښاغلى وکيل خان اورکزى، ښاغلى بسم الله کاکړ، ښاغلى رحيم الله يوسفزى، پخوانى چيف سکتر ښاغلى خالد عزيز، دپيښور هائيکورټ پخوانى چيف جسټس ښاغلى ميامحمد اجمل، ښاغلى سردار على ټکر، ښاغلى جمال شاه، بريګيډئير(ر) ښاغلى محمود شاه، ښاغلى افضل خان خاموش، ښاغلى حامد الحق حقانى او نورو مذهبى، سياسى، قومى او قبائيلى مشرانو تقريرونه او ويناوى وکړى اودپښتنو په وطن کښې ئې دامن په ټينګښت زور واچاوه.

په پاى کى پښتون امن جرګى برخه والو له اړخه دا غوښتنې وشوې





• پښتون امن جرګه په خپل وطن کې د رواني خون رېزۍ د مخنيولو دپاره پښتنو ته د قامي اتحاد قايمولو غږ کوي ځکه چې بين الاقوامي اداري او حکومتونه په پښتون وطن کې په امن راوستلو کې پاتې راغلي دي او اوس دا زمونږ قامي ذمه واري ده چې د سياسي او نظرياتي اختلافاتو نه ځان اوچت کړو، خپل قامي وجود د بقا دپاره يو بل ته لاس ورکړو او د امن راوستلو دپاره په ټولو حکومتونو زور واچوو.

• پښتون امن جرګه په افغانستان کې د ورانۍ او تباهۍ په غرض کېدونکې بهرنۍ لاسوهنو غندنه کوي او د ټولو افغانانو نه غوښتنه کوي چې هغوى دې خپل سياسي اختلافات د قومي روغې جوړې په ذريعه د خبرو اترو له لارې هوار کړي مونږ په دې عقيده يو چې په افغانستان کې امن نه يواځې د افغانانو په ګټه دى بلکې د ټولې سيمې د امن او استحکام دپاره بنسټي شرط دى، بلکې لکه څنګه چې د تېرو څو کلونو واقعاتو ثابته کړې ده د افغانستان امن د ټولې نړۍ د امن دپاره ضروري دى.

• پښتون امن جرګه د پښتنو د قبايلي سيمې څخه د وحشيانه سياسي بزکشۍ مېدان جوړولو په کوششونو تشويش څرګندوي او پرديو قوتونو نه غوښتنه کوي چې هغه دې د قبايلي سيمو نه ووځي.

جرګه خپلو قبايلي ورونو ته داد ورکوي چې هغوى په دې مشکل وخت کې يواځې نه دي او ټول پښتانه د هغوى تر شا ولاړ دي

• دجرګې ګډون کوونکي غوښتنه کوي چې د قبايلي سيمې پښتنو ته دې بنيادي انساني حقوق ورکړاى شي او هلته دې د مقامي خلکو په خوښه سياسي او انتظامي اصلاحات راشي

• د دې تاريخي جرګې ګډون کوونکي دا خبره په ډاګه کوي چې د پوځي طاقت استعمال د هيڅ مسئلې حل نه دى، بلکې پوځي اپرېشنونو شته مسائل نور زيات پېچيده کړي دي

مونږ د سيمې په تنازعه کې لاس لرونکو ټولو ښکيل اړخونو (فريقينو) ته غږ کوو چې هغوى دې د پښتنو د ژوند، مال، ناموس او شتمنۍ احترام وکړي مونږ د پوځي طاقت د بې ځايه استعمال د واقعاتو د تحقيق غوښتنه کوو او د ولسي خلکو د ځان او مال ته د تاوان رسوونکو خلاف د قانوني





کاروايۍ کولو غوښتنه کوو.

• په امن جرګه کې خبرو اترو دا خبره په ګوته کړه چې د سياسي او مذهبي قوتونو او د معاشرې ټولو برخو په نمايندګانو کې د اتحاد ضرورت دى دوى بايد په وطن کې د امن راوستلو دپاره او د قومي وحدت حاصلولو دپاره په شريکه کار وکړي او خپلو قومي دښمنانو ته اجازت ورنه کړي چې هغوى دې د پښتنو داخلي اختلافاتو نه فايده اوچته کړي

• دغه جرګه په دې لحاظ تاريخي او د خپل نوعيت وړومبۍ جرګه ده چې پکې د ډيورنډ د کرښې نه ښکته د پښتنو د ټولو سيمو نمايندګان او مشران ګډون کوي په جرګې کې د مختلفو سياسي پارټيو مشرانو، ديني عالمانو، قومي او قبايلي مشرانو او دانشورانو په لره او بره پښتونخوا کې د امن قايمولو دپاره د خپلو خيالاتو اظهار وکړو او دا خبره يې ثابته کړه چې سياسي اختلافات دوى په يو ځاى کېناستو او په يو اواز د پښتنو قومي حقوقو د غوښتنو نه نشي ايسارولى. پښتانه په اينده کې هم د خپلو قومي، سياسي او اقتصادي حقونو د ترلاسه کولو دپاره د جرګې په ذريعه راټولېږي او د عملي ګامونو اوچتولو دپاره به د عمل لاره ټاکي.

## د مبارکۍ پيغام

د پښتون سوشل ديموکراتيک پارټۍ (PSDP) د پښتنو د مشرانو د بيرته يو ځاى کيدو د پريکړې تود هرکلى کى او د يووالى به لاره کى ستر برياليتوب بولى.

د پښتون سوشل ديموکراتيک پارټۍ (PSDP) د عوامى نشنل پارټۍ (ANP) دمشر اسفند يارولى خان او د پښتونخوا قومى پارټۍ (PQP) دمشر خان لالا محمد افضل خان د بيرته يوځاى والى قدردانى کوى او مبارکى ورته وايي.

ډاکتر کبير ستورى
د پښتون سوشل ديموکراتيک پارټۍ مشر.

# نوې زېرې

## د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د مشرانو جرګې غونډه جوړه شوه

خبریال: نسیم خان ستوری

کولن ـ جرمني: په 02.02.2007 نېټه د جمعې په ورځ د ماښام په اوه بجو د جرمني د کولن په ښار کې د PSDP د مشرانو جرګې غونډه جوړه شوه. چې اجندا ئې پدې ډول ده.

١ـ د ګوند د نوی مشر په ټاکنه غور او د ګوندی چارو سمبالښت.

٢ـ د PSDP د مشر او بنسټ ایښودونکی اروابښاد ډاکتر کبیر ستوری لومړنی تلین لمانځل.

٣ـ د افغانستان او سیمی حالات.

(پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند ) Pashtoons Social Democratic



Party ـ PSDP غونډه د جنرال سیکرټری ښاغلی هدایت الله خان بنګش له خوا د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د بنسټ ایښودونکی او مشر اروابښاد





ډاکتر ستوری روح ته په دوعا سره پرانستل شوه او د اروابښاد ستوری ناڅاپی مړینه ئې پښتون ملت ته نه جبران کیدونکی او نه هیریدونکی، وبلله د پښتون ملت د سوکالی، آبادی او سرلوړی په لاره کې د ده نه ستړیکیدونکی مبارزه، خدمتونه او هلی ځلی چې د خپل ژوند تر اخری سلګی پوری ئې کړی وستایلی او د لوی خدای په دربار کې ورته د جنت فردوس غوښتنه وکړه. ورپسې د غونډې د دود سره سم د ګوند مشر سلا کار ښاغلی حاجی فضل الرحمن شیر ددی غونډې د مشر او د خپرونو چارو مشر ښاغلی عزیز سرشار د منشی په توګه وټاکل شول.

د غونډې د اجندا د لومړی برخی په اړوند د PSDP د منشور سره سم د



ګوند لومړی مرستیال ښاغلی علی خان محسود به د ګوند د نوی مشر تر ټاکنو پوری د ګوند د مشر ټولی د ندی سرته رسوی.

د مشرانو جرګی د هر اړخیزو، څیړنیزو، پوهنیزو مالوماتو، وړاندیزونو او غور وروسته د ګوندی چارو د لا پرمختګ او ښه سمبالښت په خاطر د ګوند د مشر تر څارنی لاندی د رایو په اتفاق سره د کاریوه واکمنه اوه کسیزه جرګه کې وټاکل شوه چې د ګوند د مشر د لارښونی، مشورو او د بنسټیزی (منشور) په رڼا کې به ګوندی چاری پرمخ بیائی چې غړی ئې په لاندی ډول دي.

١ـ د ګوند دوهم مرستیال ښاغلی محمد شیرین ګردیوال





٢ـ جنرال سیکرټری ښاغلی هدایت الله خان بنګش

٣ـ دکورینو چارو مشر ښاغلی مبارز څاپی

۴ـ د مشرتابه د دفتر (دارلانشاء) مرستیال ښاغلی نصیر ستوری

۵ـ د مشرتابه د دفتر (دارلانشاء) غړی ښاغلی ډاکتر شیر ولی شیر.

۶ـ د خپرونو چارو مشر ښاغلی عزیز سرشار.

٧ـ د فرانکفورټ د څانګی مشر ښاغلی لالا اقبال

د اړوابښاد ډاکتر ستوری د لمړنی تلین د لمانځلو په هکله مشرانو جرګی پریکړه وکړه چې په روان 2007 ع کال کې به یوه ستره پوهنیزه غونډه او سمینار جوړوی. دا چې اروابښاد ډاکتر کبیر ستوری نه یوازی د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند ( PSDP ) مشرؤ، بلکه د هیواد ملی منلی او ډیر اړخیزه سرېتوب (شخصیت) دی. پښتون قام او ولس ته د ده سیاسی، ادبی، پوهنیزو او نه هیریدونکو سترو خدمتونو، مبارزی او هلو ځلو د درناوی په خاطر به همیشنی پوهنیزی غونډی او سمینارونه په بیلا بیلو بڼو کې جوړوی. د اروابښاد ستوری یاد به تل تازه ساتل کیږی او د ده خدمتونه به لمانځل کیږی. پدی برخه کې هم پورتنی جرګه ګی ذمه واری په غاړه لری.

د PSDP د مشرانو جرګی د هیواد دننه او بهر د ټولو هغو ټولنیزو، ملی سیاسی، پوهنیزو، ادبی، کلتوری، دولتی (سرکاری) او ولسی مشرانو او سرېتوبونو (شخصیتونو) څخه او همدا راز د ټولو خبری رسینو، انټرنتی دیرو، سیاسی ګوندونو، کولتوری او ادبی ټولنو څخه چې مونږ سره پدی ستر غم کې شریک شوی او په فاتحو کې ګډون کړی، د اروابښاد ډاکتر کبیر ستوری په ژوند او مبارزه ئې بیلابیل پروګرامونه او غونډې جوړی کړی، لیکنی ئې کړی، د خواخوږی او غمرازی پیغامونه ئې رالیږلی د زړه له کومی مننه وکړه.

د افغانستان او سیمی د اوسنی تازه روانو حالاتو په اړوند د مشرانو جرګی غړو هر یو په خپل وار مالومات ورکړل، خبری او د نظریو څرګندونه ئې وکړه او د ډیورند په کرښه، چې په خبری رسنیو کې اوس رامخ ته شوی ده رڼا واچوله او د ډیورند تش په نامه کرښه ئې د پښتنو د یووالی او قامی وحدت په لاره کې د شګو دیوال وباله او دلرو او برو پښتنو په قامی وحدت ئې زور واچاوه.





# د کونړ د ځوانانو کولتوري او فرهنګي ټولنې بنسټ کېښودل شو



د ١٣٨٦ ل کال د وری د (حمل) د میاشتی په لومړی نېټه د جرمنی د کولن د ښار او د شاوخوا اوسیدونکو کونړو ځوانانو له خوا د هیواد د کولتوری پرمختیا او په ځانګړی توګه د کونړ د کولتوری بهیر د لا پیاوړتیا او په جرمنی کې د خپل کولتور د ساتنی، پالنی او روزنی په موخه د هورټ په ښار کې د کونړ د ځوانانو کولتوری او فرهنګی ټولنی بنسټ کیښودل شو.

بنسټ ایښوونکی غونډه د ماښام په ١٩ بجو د انجنیر فریداله ساپی له خوا ددی ټولنی د جوړیدو او ضرورت په اړه په لنډه وینا سره پرانستل شوه. ورپسی د غونډې برخه والو په خپل وار د ځوانانو د ټولنی په جوړیدو او ضرورت رڼا واچوله او د نظریو څرګندونه ئې وکړه او د ټولنی د کارونو د پرمختیا په خاطر یوه د کار ډله جوړه شوه چې د غړو نومونه ئې په لاندی ډول دی.

فریداله ساپی، مطیع الله روفی، شیر ولی شیر، عزیز سرشار، نصیر ستوری، سید رحیم یوسفی، امین سادات، او اتل سالارزی.

ددی تر څنګ، مشورتی جرګه، ادبی ډلګی، تخنیکی ډلګی او هنری ډلګی هم وټاکل شوی.

د کونړ غږ مجلی لومړنی ګڼه چې په ښکلی ډیزاین د کونړ او په جرمنی کې د کونړ میشته فرهنګیانو لخوا له چاپه تازه راوتلی وه حاضرینو ته ورکړل شوه.

د غونډې په دوهمه برخه کې چې د مشاعری برخه وه د پښتو ژبې

پياوړي شاعرا فسانه نګار اونامتو ليکوال ښاغلی محمد اجان يار ، ښاغلی عزيز سرشار ، ښاغلی خالد ساپی ، ښاغلی نسيم خان ستوری او ښاغلی عبدالولی برهان خپل شعرونه واورول وروسی برخه والو د خاطرو او ټوکو ټکالو په ويلو سره چې ګډونکونکو د خوښی سبب و کرځيده غونډی ته ښکلا ورو بخښله.

د غونډی په پای کې ښاغلی محمد اجان يار د کونړ په ارزښت او کارنامو رڼا واچوله. او د ماخستن په لسو بجو د يار صاحب په علمی او ارزښتناکه ويناغونډه پای ته ورسيده.







# په جرمني کې د اسفنديار ولي خان په وياړ غونډه جوړه شوه

د پښتنو سوسيال د موکرات ګوند PSDP د پښتنو د منلی مشر ، زړور پښتون سپاستوال اودعوامی نشنل ګوند ANP مرکزې صدر ښاغلی اسفنديار ولی خان په وياړ د جرمنی د ليورکوزن په ښار کی په ۱۲.۰۵.۲۰۰۷ نيټه يوه درنه غونډه چی په اروپا کی دلری او بری پښتونخوا د بيلابيلو سيمو پښتانه/افغانان پکې راټول شوی وو جوړه کړه.

غونډه د ماښام په ۷ بجو د پښتنو سوسيال ډ موکرات ګوند PSDP دوهم مرستيال محمد شيرين ګرديوال پرانيستله.

د PSDP جنرال سکرتر هدايت بنګش له خوا مشر ميلمه او راغلو ميلمنو ته هرکلی وويل شو.

د غونډی په پيل کی ګډون کوونکی د پښتنو د دوو سترو مشرانو اروابښاد ډاکتر کبير ستوری او اروابښاد خان بابا خان عبدالولی خان د مړينی له امله ودريدل او ديوی دقيقی لپاره يی سکوت وکړ.

وروسی د PSDP د خپرونو چارو مشر عزيز سرشار په خپله مقاله کی وويل:

نننی غونډه چې د پښتنو د ټولنيزولسوليز ګوند PSDP له خوا جوړه شويده چې د پښتنو منلی مشر ښاغلی اسفند يار ولی خان او لر او بر پښتانه پکې راټول دی دهيواد د هغه ستر سړيتوب (شخصيت) برکت دی چې د داسی ګڼ شمېر غونډو ، جرګو ، کنفرانسونو او سيمينارونو بنسټ اينبودونکی و ، چې لر او بر پښتانه ئې تل په يو تغر راټول کړی و. خپل قوم او اولس ته ئې بې ساری هراړخيزه ، تل پاتی او نه هيريدونکی خدمتونو کړيدی.





هغه د هيواد ملی منلی او ستر ولسی سړيتوب (شخصيت) د پښتون قامی وحدت خدمتګار ، اديب ، شاعر ، څيړونکی ، ليکوال ، ژورنالست ، ساپوه ، د باچا خان د نظريو پيرو ، د پښتونخوا د تاريخ ځليدونکی ستوری ، زړور مبارز ، د کونړ دوهم سيد جمال الدين افغان ، د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند Pashtoons Social Democratic Party-PSDP بنسټ اينبودونکی او مرکزی مشر اروابښاد ډاکتر کبير ستوری دی.

دا هغه حساس قام پرست پښتون وچی کله ئی د شعور په درشل قدم اينبی دی نو د پښتون قام د يووالی ارمان له ئی اوږه ورکړی او د ژوند تر اخری سلګی پوری د دغه ارمان په تکميل پسی سرو هلی او بروهلی ګرځيده. د ژوند ټوله برخه ئی پښتو ، پښتونولی ، پښتون قامی وحدت ، وطن او د اولس خدمت ته وقف کړی وه. تل ئی د پښتنو د يووالی بيرغ اوچت ساتلی وو. د پښتون قامی وحدت ، ملی حاکميت ، استقلال او حقوقو کلک مدافع و. اروا ښاد ستوری نه يوازی د افغانستان په دننه کی بلکی د سيمی په سياسی مبارزېنو کی لوړ مقام لرلو ، او د ډير محبوبيت لرونکی قومي او ولسې مشر وو. چې د پښتنو د تاريخ يو ژوندی باب دی چې پښتانه به پری تر عمره وياړی.

ستا وينه پښتنه وه
ستا مينه پښتنه وه
ته ځما د سر شمله وی
ته ځما د شملی وږی

ډاکتر ستوری ډيرو پښتنو ته د سياسی بيداری لارښودلی او اولسی تحريک ئې چلوې دی. د قامی يووالی د ضرورت د دغه احساس د رابيدارولو لپاره يی هلې ځلې کړی دی او د ټولو قامی او ولسی مشرانو سره ئی خپل غړ ملګری کړی دی دا په دی اساس چی دغه قامی مشران د ستوری د يوه فکر او يوی نظرئی ملګری و ، هغه د شخصيت پرستی بالکل قايل نه و ځکه نو ټولو قامی او ولسی مشرانو ته ئی يوشان درناوی لره.





اروا ښاد ستوری هاغه پښتون مسلمان بشردوست وو چې د خپلی نظرئې له پاره ئی ژوند کاوه. په وار وار ورته د وخت د حکومتونو لخوا د لوړو مقامونو او منصبونو وړانديزونه شوی دی ، خو دی پخپله عقيده او لاره کې هيڅ ډول کامپرومس (معاملې) ته تيار نه وو.

لکه څنګه چی ده ته د باچا خان نظريو ژوند وربښلی وو لر او بر پښتانه پری راټول وو همدا راز په هغه لارلاړ چی په ژوند ئی غوره کړی وه.

د هيواد په دننه او بهر کی د پښتنو په غونډو ، کنفرانسونو ، سمينارونو او جرګو کی ئی تل برخه اخستی او په ډيرو سختو شرايطو کی ئی هم ځان وررسولی دی.

د ډاکتر کبير ستوری د ژوند زياته برخه د خپلی پښتونخوا نه ليری په المان کې تير شوی ولی د قام ولی بيرغ ئې دلته هم هسک ساتلی دی.

ډاکتر کبير ستوری يو سپيځلی قام پرست پښتون وو ځکه د ژوند په هر قدم ورسره د ويشلی او تالا والا پښتون فکر وو. د پښتو نه پرته بل کوم سوچ کول ورته بالکل بې مانا ښکاريدل دا نظم ئې د احساس څرګندونه کوی :

## يو ټبر

يوه ورځې چا ويلي
چې اسمان ته مې کتلي
يوه غټه وريځه راغله
دوه وړي ئې ښکلولي
وړې شوې غټې کې غيبي
بيا مې ستر ګو نه ليدلي
ښکارې دا وي کوچنی وريځی
چې د مور غېږې ته تللي
د يو کور د يو ټبر وي
د يو بل نه ځار ېدلي

چې هم جنس وي جمع کېږي
عقل کله بېلولي
په ویشلي پښتون قام ئې
ستوري او ښکې تویولي

ډاکتر ستوري په کلکه دا باور وو چې پښتانه به نور تر ډېره وخته پوري داسې ټوټې ټوټې نه وي پراته بلکه دوی به هرومرو د خپل ملي وحدت مرام ته رسي او د احمد شاه بابا دغه خاوره به یو ځل بیا د پښتونخوا په نامه یاده کړي.

د پښتون قام مهم او ملي شخصیتونه تل د دې قام د تاریخ په ډېرو حساسو وختونو کې له دونیا نه تللي دي.

د لر او بر د پښتنو د بخت او هسک دغه ځلیدونکی ستوری د ۲۰۰۲ ع کال د اپریل د میاشتې په څلورمه نېټه د سهار په څلورنیمو بجو لدې فاني نړۍ څخه د تل له پاره پنا شو. نن مونږ سره په جسماني طور موجود ندی خو ستوری تل ژوندی دی د ده نظرئي هدفونه، کړنې، خاطرات، پوهنیزه، او ادبي پانګه زمونږ سره تل پاتې ده.

د پښتنو د ټولولنیزولسولیز ګوند PSDP د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه کوي چې د ډاکتر کبیر ستوري په نوم پوهنیز مرکزونه جوړ کړي او د ډاکتر ستوري پوهنیز کتابونه او لیکنې د پوهنې په خدمت کې د هیواد په پوهنتونونو کې د پوهیدونکو د زده کړي د کتابونو په لست کې ونیسي.

ورپسې پیغلې سیلۍ شینواری حاضرینو ته یو شعر واورولو.

بیا د پښتنو سوسیال ډیموکرات ګوند PSDP دوهم مرستیال ښاغلي محمد شیرین ګردیوال په خپله مقاله کې وویل: په کوزه پښتونخوا کې د پښتنو هلې ځلې او په ځانګړې ډول د عوامي نشنل ګوند ANP هلې ځلې، د پښتنو د ملي هویت، ازادۍ، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ژوند په هکله یو ځلانده څپرکی دی.

د تاریخ په اوږدو کې د خدای خدمتګارو څخه را واخله تر اوسه پوري د دغه پارټۍ ملګرو چې کومې قربانۍ ورکړې دي په تاریخ کې





ساري نه لري. د پښتنو پرابلمونه او مسئلې د پښتنو په سر دي مونږ ته به بل هیڅوک زمونږ مسئلې حل نه کړي مونږ به خپلې مسئلې پخپله حل کوو.

د دغه مسئلو د حل لپاره د ټولو پښتنو د مرستې او ملاتړ اړتیا ده. په ملي او نړیواله کچه یو کوټلې پروګرام او چوکاټ پکار دی چې د دغه پروګرام سره هر روشن فکر پښتون ځان په ایډنټیټیت کې راولي او د عملي کار لپاره ئې زمه واري په غاړه واخلي.

هغه زیاته کړه چې په همدې ځای د یوې خبرې کول ضروري ګڼم چې مونږ پښتانه په حیث د یو قوم د هیڅ قام او ژبې مخالف نه یو خو د نړۍ د یو مدني او پرمختللي قام او ملت په حیث د بل نه هم د متقابل احترام طمع او توقع لرو.

ده وویل که د یو ژوندي او میړني قوم په حیث غواړۍ چې په ملي او نړیواله کچه د قومونو او ملتونو د سیالۍ جوګه شو نو راکینۍ او یو موټي شۍ او په هغو ټکو اتفاق وکړۍ کوم چې ستاسې پلرونو او نیکونو تاسې ته د یوه تاریخ د میړني قام او ملت په حیث په میراث پرېښې دي او د پښتون ملت به په غیر د ستر ملي هویت، ګډ مشرتابه، ګډ ملي مرکز او یووالي څخه ددې جوګه نه شي چې د یویشتمې پیړۍ په درشل او د نړۍ والو نورومونو مطابق د یو میړني، پرمختللي او تنکیالي قام او ملت په حیث د یو ځلنده حیثیت ټاټوبي خاوندان شو.

ددې وروسته د PSDP لومړي مرستیال تاریخپوه علي خان محسود د خپلې وینا په ترڅ کې وویل: کله چې مونږ ددې ضرورت ولید چې داسې ګوند یا اورګانیزشن جوړ کړو چې سوچه پښتو وي. نو د پښتنو ټولینزولسولیز ګوند Pashtoons Social Democratic Party-PSDP بنیاد مو کیښود.

چې پدې کې د کبیر ستوري ډېر غټ لاس وو. په هاغه وخت کې ډاکتر کبیر ستوري ملي شخصیت وو ملي هلک وو او ملي ځوان وو او مونږ سره ئې ډېر کومک کړیدی بلـه غټه خبره دا ده چې د هاغه





وخت مطابق ډیر خلک د پښتون د نوم نه ویریدل او وویل به ئې چې تاسې افغانستان ورانوۍ خو دا یو پروسس وو. ورو ورو ورسره د خلکو غوږونه او ذهنونه اشنا شول. د خدای شکر دی چې په ټوله دونیا کې نن پښتون د پښتون په نوم پیژانده شي. بلـه دا چې مونږ پښتانه په لر او بر تقسیم یو او په ملا باندې مو د ډیورند تش په نوم کرښه تیره ده دا داسې مثال دی لکه چې زمونږ وجود ګوزن وو هي. زمونږ د ګوند PSDP بنیادي او بنسټي ټکې د باچاخان د عدم تشدد د نظرئې د لارې قدم په قدم پښتنو دیووالي او سوکالي ده.

تر څو پوري چې مونږ لر او بر یو شوي نه یو نو هیڅکله به نه بر او نه لر د عزت خاوندان شي. زمونږ ژبه او کلتور لره خوا د انګریزي او اردو لاندې راغلي او بره خوا کې پارسیوان، ایراني او تاجک کوشش کوي چې په افغانستان کې پښتو ژبه د دفترونو نه ووځي او تش په دا غرونو کې ویلې کیږي خو په افغانستان کې پښتانه اکثریت دي ۷۲ فیصده پښتانه په افغانستان کې اوسیږي چې ۲۰ فیصده هغه پښتانه دي چې پښتو ویلې، لیکلې او لوستلې شي او ۱۲ فصیده هغه پښتانه دي چې پښتو تري تللې ده ځنې پرې لږ څه پوهیږي او ځنې پرې د سره نه پوهیږي.

نن د افغانستان خو نوم شته خو افغانستان د سر نه نوی جوړیږي او بله خوا په دونیا کې یوه تبدیلي روانه ده مخکې د ګرمو او بو جګړه وه اوس د تیلو او ګیس جګړه ده، ددې لپاره جاپان، چین، امریکه، یورپ او نور... لګیا دي نوې ټیمونه جوړ وي. مونږ او تاسې باید وګورو چې کوم یو ټیم زمونږ په فائده دی چې ملي ګټې مو پکې خوندي شي چې ملګرتیا جوړیږي هم په ملي مفاداتو او که ورانیږي هم په ملي مفاداتو افغانستان کې به حکومت پښتون کوي بل څوک ئې نه شي کولی.

زه بهر دونیا ته اپیل کوم چې د پښتنو سره مرسته وکړي چې پښتون یو شي. نن چې دلته اسفند یارولي خان راغلی او وائي چې ای پښتنو په تاسې یو سیلاب راوان دی. تاسې که ویښ او بیدار وی نو تاسې به پدې سیلاب پټې او به کولی شي او که ویده پاتې شوی نو





تاسې به یو سې. مونږ باید چې د اسفند یارولي خان سره مرسته وکړو او د لوی بابا باچا خان سلسله راونیسو ځکه چې دا لاره تر اوسه صیح ثابته شویده مونږ لر او بر باید یو بل ته لاس ورکړو په یوائې توګه ئې نه لر شل کولې شي او نه ئې بر.

د غونډې په پای کې د پښتنو منلي ستر مشر ښاغلي اسفند یار ولي خان چې دغه غونډه ئې په ویاړ جوړه شوې وه وینا وکړه. د هغه د وینا غټې ټکي:

پښتون قوم د تاریخ په یو ډېره نازک موړ ولاړ دی داسې وختونه لکه نن چې په پښتون قام راغلې دي د قامونو په ژوند کې ډېر لږ راځي کله چې یو قوم پداسې موړ ودریږي چې دی به یا شته کیږي یا خدای مه کړه ورکیږي.

ورونو! نن مونږ بیا یو داسې موړ ته رارسیدلی یو ځینې خبرې داسې وي چې هغه لږې ترخې او د ډیرې خوشحالۍ نه وي خو یا به د خپل ځان د جذباتو او احساساتو خیال ساتو او یا به حقیقتونه ځانته مخ ته ږدو او د هغې حقیقتونو په رڼا کې به د سبا لپاره ځان ته لارې لټوو.

زمونږ دا تیرې دري لسیزې پښتون قام په داسې یو عذاب کې تیر کړل چې هغې ډیر ډوب زخمونه زمونږ په ذهنونو، زړونو او وجودونو پریښودل ځما خواست له تاسو څخه دا دی چې د پښتنو خبره تیر په هیر.

پرون چې څوک په کوم ځای ولاړ وو هغه به د هاغه وخت د حالاتو نه مجبور وو، دا د هغه وخت سوچ او فکر وو، تاسې ټول تعلیم یافته ئې، ټول ښه پوه ئې. زه امریکې، انګلستان او بیا دلته راغلم ځکه چې هغه پښتانه چې د خپل هیواد بهر دي د هغوی سره خپله رایه یوه کړم.

نن هغه منطقه په یوه صف بندۍ لګیا ده تقسیمیږي په هغه منطقه به نن یو اړخ ته هغه خلک وي چې امن، مینه، ترقي او د دونیا سره یو ځای تګ غواړي او بل اړخ ته هاغه خلک ودریږي چې د هغوی د سیاست بنیاد به نفرت، بدامني، قتل او د دونیا سره به جنګ وي دا

فیصله به تاسی پخپله کوی چې کوم صف کې ودریږی. ANP خپله فیصله کړیده چې خما سیاست د باچاخان بابا د عدم تشدد درست سیاست دی.

یو پښتون چې د پښتون د معاشری بنیادونه خوځوی د پښتون روایات او کلچر ختموی نو زه به هاغه سړی ته هیڅکله پښتون ونه وایم.

زه وایم ترڅو پوری چې پښتون ته یو پیغام ورنکړای شی چې ته پدی خپله خاوره دعزت ژوند تیرولی شی، ستا بچې د عزت او غیرت یوه مړی په خوله کولی شی. تر هغی پوری دا مسئله هم نه ختمیږی.

تر اوسه پوری پښتوون قام وهل پدی خوړلی چې هاغه په یو داسی ځای کې پروت دی چې ټول عمر د دوو لویو قوتونو د جنګ مرکز وو د مغلو نه نیولی تر ننه پوری دا جنګ زمونږ په خاوره وو.

نن په لمړی ځل مونږ په هاغه نازک موړ ولاړ یو او فیصله یه کوو، د امریکی مثال د لنګی غوا دی چې لشو او که نه ئې لشو؟ خپلو بچو ته تری پی اخلو او که نه ئې اخلو؟ نن د هغه غرض د منځنی اسیا په تیلو او ګازکی دی خو لاره ئې په پښتون ده. که پدی ټوله سناریو مونږ نظر واچوو دغه تیل به د سپین بولدک له لاری چمن ته راځی او بیا به د بلو څو علاقی ته اوړی.........

زه وایم چی ورورولی کوم غلامی په هیڅ صورت نه کوم.

زرو هسی پیغور شی چې همت ورسره مل نه شی
ورک هاغه مشال شه چې تیاره شی او دی پل نه شی

د وینا وروروسته دروند مشر دغونډی د برخه والو تپوسونو او پوښتنو ته ځوابونه وویل. غونډه د ماښام په لسو بجو پای ته ورسیده.











## پښتو د المان په ښوونځیو کې رسمي ژبه ده

په آلمان کې د پوهنی وزارت د قانون له مخی پښتو ژبه د آلمان په ښونځیو کې د زده کړی یوه رسمی ژبه منل شویده.

د آلمان په ښونځیو کې زده کوونکی مجبور دی چې د خپلو درسی مضمونونو په منځ کې دوه بهرنی ژبی هم زده کړی.

د آلمان د پوهنی وزارت د قانون سره سم پښتو ژبه په المان کې د پیژندل شوو بهرنیو ژبو په بنسټ کې شمیرل شویده. پدی بنسټ هغه پښتانه / افغانان چې په آلمان کې ژوند کوی او په زده کړه بوخت دی. کولای شی چې په پښتو ژبه کې ازموینه ورکړی. پدی توګه به هغوی ته د یوی بلی بهرنی ژبی د زده کولو تر څنګه د پښتو زده کولو امتیاز ور وبښل شی.

## د خواشینی پیغام



دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند PSDP د پښتو ژبی دځوان پیاوړی شاعر ارواښاد طاهر فرهاد په مړینه د زړه له تله خفګان ښکاره کوی.
ارواښاد طاهر فرهاد پښتو ادب ته





د خپل عمر په لړه موده کی پوره خدمت کړی دی چی یاد به ئی په پښتنی ادب کی تل پاتی وی.

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند PSDP ارواښاد ته دلوی خدای (ج) له درباره د جنت فردوس غوښتنه کوی او دده کورنۍ سره په دغه دروند غم کی ځان شریک ګنی. روح دی ښاد وی

## د PSDP د خواشنی پیغام



په ډیری خواشنی سره مو خبر تر لاسه کړ چې د هیواد پیاوړی شخصیت ډاکتر حاجی محمد سلطانزی «ځدران» په ۲۰۰۶,۰۹,۰۴ نیټه په جرمنی کې د زړه د دریدو له امله په پردیسی کې لدی فانی دنیا څخه سترګی پټی او ابدی دنیا ته ئې سفر وکړ.

انالله وانا الیه راجعون

خدای بخښلی ډاکتر سلطانزی پښتو او پښتونولی سره بې کچه مینه درلوده، پښتون ملت ته ئې د خپلی کورنۍ د نورو غړو په شان نه ستړی کیدونکی پوهنیز خدمتونه کړیدی، په جرمنی کې ئې د پښتون ملت دابادی او سوکالی لپاره د پښتنی خوربنت سره تل خپل اواز یو ځای کړی وو، چې لدی امله ئې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د غړیتوب ویاړ لرلو.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د ده ناڅاپی مړینه پښتون ملت ته ستره تاوان بولی او د زړه له تله خفګان څرګندوی او د ارواښاد د کورنۍ د غړو سره پدغه غم کې ځان شریک ګنی. روح دی ښاد وی

چې په وخت سره راونه رسېدلې، تاسې څخه به يې لکه زما په شان د ويکټوريا آسپې جوړې کړې وای". (ويکټوريا د انګلستان د پخوانۍ ملکې نوم دی) ما ورته وويل، چې بابا زه پوه نه شوم؟ نو غني خان راته وويل، چې کله د ويکټوريا سالګره وي، نو د سلامۍ اسپو ته به يې يوه ورځ مخکې څه خوراك نه ورکاوه، چې په سلامۍ کې پچې ونه کړي، نو ما او کبير ماما ورته په خندا شو، ښه مو وخندل.

تر دې وروسته د ډاکټر نجيب الله او نورو دولتي او سرکاري مشرانو سره زموږ خبرې پيل شوې، چې په حکومت مو دا ومنله چې لر او بر پښتانه يو دي او هېڅ توپير پکې نه شته. د خبرو اترو لپاره يوې خوا ته حکومت (سرکار) او بله خوا زه او کبير ماما، چې زه د ښکته پښتونخوا او کبير ماما د برې پښتونخوا و، ناست وو. په ماما کې د فيصلې کولو قوت ډېر زيات و، په خبره به يې ښه سوچ کاوه او ځه خبره به يې چې وکړه، په هغې به کلك ولاړ و. د کابل له حکومت سره په خبرو کې له خپل دريځ څخه تېر نه شو. زموږ په ورتګ سره افغانستان کې هم پښتنو ته د سياسي سوچ داډ پيدا شو، چې د پښتنو په نامه هم ګوند شته، چې د پښتنو د يووالي، ابادۍ او سوکالۍ لپاره کار کوي او د پښتنو د حقوقو دفاع کوي. همداراز هغه خلکو، چې ځان ته به يې په اروپا کې هم پښتون نه شو ويلای، ددې ګوند PSDP له برکته په خپل قوم پښتون او خپلې ژبې پښتو باندې اوس وياړ کوي.

کبير ماما به ويل، چې زموږ ګوند پښتنو ته انفرادي او هم اجتماعي ګټه ورسوله. په کبير ماما لر او بر پښتانه راټول وو، ډېر جمهوري شخصيت و، ډېر زيات صبر او حوصله يې لرله، هره خبره به يې ډېره ارامه او په سړه سينه اورېدله، ډېر ژر به نه غوسه کېده.

کبير ماما يو ستر پښتون، تکړه ملګری، ښه پلار او ښه رشته دار (خپلوان) و. د لر او برو پښتنو د Integration Figur و.

د کبير ماما کمی موږ ته محسوس کېږي، که هغه موږ سره جسماني موجود نه دی، نو زموږ ذهن کې هغه تل ژوندی دی او هر ياد به يې موږ سره تل پاتې وي.





# غم دپاسه غم

ظفر کريمي

د ډاکټر کبير ستوری فاتحه لا ختمه شوې نه وه چې د خاص کونړ د تنر کلي جامع جومات کې د پښتونخوا د لر او بر راغلو مشرانو، شاعرانو او اديبانو لپې لا د اسمان په لور د ښاغلي ستوری د روح بخښنې په موخه هسکې وې د کونړ د ادبي افق لمر لا د تندر په لومه کې راګير ؤ چې کړس شو او عزرائيل) ع) د يو بل زلمي شاعر، اديب او ليکوال دروازه وټکوله.

دغه زلمی چې يوازې يوه مياشت د مخه ئې د نورو ملګرو ترڅنګ د ښاغلي ستوري په جنازه ساندې وئيلې نن ئې پاتې دوستان دده غم ژاړي او د کچه خاورو جوړ ځلي ته ئې لاس د زنې لاندې کړی ناست دی. طاهر فرهاد چې لا ئې د ځوانی بڼ پسرلی ؤ اوس په دې فاني دنيا کې پاتې نه شو او د يوې مرګوني ترافيکي پېښې ښکار شو.

هغه فرهاد چې کله به ئې په خپله افسانه «تور ستوری رڼا کوي» کې د يو ځوان زلمي ځوانيمرګ پس منظر قلمبند کولو او د خلقو سترګې به ئې لمدولې اوس پخپله د ژوند له افسانې څخه ووتو او د مرګ غوندې حقيقت ئې په عين اليقين وليدو. هغه فرهاد چې کله به مرګ ته داسې مخاطب کيدو:

مرګه که راشې مونږ نه څه به يوسې

څه مړه! لاړ شه بادشاهان ونيسه هغه فرهاد چې په زړه کې ئې دا هيله درلوده چې د پښتو ادب ته به د کتابونو بنډلې ورپېرزو کوي او لکه د چاپ شوی شاهکار «زما د لاس کرښو ته ئې» په څېر به د نورو کتابونو ځلي جوړوی ددې نيمګړې دنياګۍ نه لاس په سر شو او په نارنجي ډوله سترګو او ګلابي رنګه اننګو ئې د تورو خاورو ځلي بار شو.

اروانښاد فرهاد په خپلو پسماندګانو کې نه يوازې يوه ناوې کونده پرېښې ده بلکې د کونړ د ادبي اسمان سربيره ئې د باجوړ د ادبي چمن ګلان هم دې ته مجبور کړی دی چې د ځوانيمرګ په درانه غم کې په خپلو سرو اننګو يوه يوه دومره ګرمه اوښکه را وڅڅوی ځکه چې طاهر فرهاد د باجوړ په خاوره هم خاپوړې کړې وې او هم ئې د دغه ځای ا ديبانو سره پخه ناسته ستره وه.

د مرګ ترکش کله هم نه خالي کيږي او مرګ يو داسې رښتوني شی دی چې د نړۍ هر دين او مذهب ئې منونکی دی او قران کريم خو د مرګ په اړه داسې واضحه ټکی فرمائيلی دی چې «هر ساه لرونکی به ارو مرو مري» خو طاهر فرهاد زمونږ د زندګۍ د





تاوده ښنداره نه داسې ناڅاپه تم شو چې يقين را سره دا خبره کله مني چې فرهاد او تورې خاورې؟؟

د Dead and death مصنفه سوئس سائيکاټرسټ په خپل ياد شوی کتاب کښې يو ځای داسې ليکي: «هر سړے د خپل ژوندانه په اخري شيبو کې د خپل تير شوی ژوند په البم خامخا نظر اچوی» نو ستاسو په خيال اروانښاد فرهاد به خپل تير شوی پنځه ويشت کلن ژوند ته څه رنګ کتنه کړی وی د هغه په ذهن کې به د باجوړ هغه کوڅې هم راغلې کومو کې به چې فرهاد د ماشوموالی شرارتونه کول ا و هم به ئې د خپل پنډغالی د هغو خړو خيمو يو خړ غوندې انځور هم دماغو ته راغلی وی. فرهاد به د خپل تعليمي ژوند سره سره په هغو ادبي خوځښتونو هم يو سرسری نظر کړی وی کوم چې نوموړی د "څرک" په مجله پرمخ بيو. هغه ته به په ادبي ښدار کې ناست خپل تول ياران هم ياد شوی وی او د ډاکټر کبير ستوری د جنازې اخري مراسم هم.

طاهر فرهاد ته به يوازې دوه کاله پخوانی د خپل واده هغه منظر هم رامخې ته شوی وی چې پکې به ئې د خپلې ګرانې مورکی، خويندو، ورونو او کورودانې تت تت غوندې انځورونه کتلی وی او بيا به ئې مرګی ته داسې خواست کړی وی چې:

مرګيه! دومره صبر وکړه

يو مې ځواني ده بل مې ډير دی ارمانونه

خو چې مرګی ئې سوال نه دی منلی نو بيا فرهاد په خپلو وچو شونډو د مسکا هغه پلوشې راخورې کړې کومې چې د مازيګر زيړی لمر د شفق په ښه د وطن په غرونو خوروی.

مرحوم ډاکټر کبير ستوری ا و اروانښاد طاهر فرهاد خپلې جنازې د يو بل سره جوړه وويستې خو د کونړ په ادبي بوستان ئې ډيره پراسراره خاموشي پريښوده، او هغه خاموشي چې د سيمې شاعران به تر اوږدې مودې پورې د غزل او سندرو په ځای «مرثيې» ليکلو ته راکاږي.

راځئ چې د ډاکټر ستوری ا و فرهاد غم په خپلو کې سره تقسيم کړو. ځکه چې غم په ويشلو کميږي او په اخر کې ددغو دواړو ښاغلو روحونو ته د بخښنې دعا ډالۍ کړو.

مړه هغه چې ئې نه نوم نه يې نښان شته

تل تر تله په ښه نوم پايي ښاغلي





# ستوری ماما لټوم

عزيز سرشار _ جرمني

خندا مې ورکه اوس ژړا لټوم
د زړګي درد ته مې دوا لټوم
چې ستا د غم خيالونه هېر کړم پکې
خپلو سلګو کې مشغولا لټوم
چې رانه ورک شو د منزل باني مې
غرونه درې د پښتونخوا لټوم
چې د قام درد يې وو د ژوند ملګری
هغه خوږمن، هغه دردمند، هغه اشنا لټوم
د پښتنو شمله ور بيا راغونډ دی
زه پکې خپل ستوری ماما لټوم

## عرفان الله کوتوال کونړی

د چا په نوم چې يادېده هغه له ښاره لاړه
سره جنازه يې شوه اوچته له رخساره لاړه
هغه چې نوم و خو بس نو و د هغې د ښکلا
اوس خو بودۍ وه تېره هېره په دغه لاره لاړه
لوخ مخ به تلله او راتلله خو ثواب و پکې
نن يې لا بله نخره وکړه ګناهګاره لاړه
هلته د شيخ په لومه ونښته پرې واوښتله
چې د خلاصون په تمه دام ته له سنګساره لاړه
هغې چې تورې زلفې زما مخې ته ځنډ وهلې
خروار، خروار مانا يې سمه له هر تاره لاړه
دا ترنم زما دزړه دی چې ګډېږي ورته
کومه نغمه چې د تنهاکې له پرهاره لاړه
کوتواله ته به پرې ستې شې که دې نوره پو کړه
هغه ايره که د سکروټې له سينګاره لاړه

# د پښتنو ټولنيز ولسوليز
# ګوند اعلاميه

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند (PSDP — Pashtoons Social Democratic Party) د پښتنو د ملي ازادۍ د عدم تشدد د غورځنګ يوه برخه ده چې په 1929ع کال کې د انګريزي ښکيلاک په ضد د باچا خان «فخر افغان» په مشرۍ منځ ته راغلې دی.

پښتانه چې په اوسني وخت کې 50 ميلونه اټکل کيږي د نړۍ په لرغونو قامونو کې شميرل کيږي او د يوه بډای او موړ کلتور خاوندان دي چې پښتونولي نوميږي. پښتونولي د جرګو يو ولسوليز سيستم دی چې بنسټ ئې په پښتو ولاړ دی، پښتو يوازې د پښتنو ژبه نده بلکې د يو لړ صفتونو مجموعه ده لکه پت، ښيګړه، ميړانه، توره، ورورولي، ننګ او داسې نور... چې هر پښتون ئې که موړ وی او که غريب بايده دی چې ولري. پښتو د ټولو پښتنو ګډه ښکلا ده نو ځکه پښتون نيکه خوشحال خان بابا وائي:

درست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار

د جرګو سيستم چې د پښتونولۍ بنسټ جوړ وی او اوس په مونږ کې رواج دی د هغې ټولنو محصول دی چې لس زره کاله د مخه اټکل کيږي دا ددې مانا لري چې پښتون قوم لس زره کاله د مخه موجود ؤ. پښتنو پدې خپل اوږد تاريخ کې ډيرې سړې او تودې ليدلي دي خو تل ئې خپل ملي او قامي





هويت ساتلی دی. په 1893ع کال کې پيرنګيانو ددې هڅه وکړه چې د ډيورنډ د کرغيړنې کرښې پواسطه په مصنوعی توګه پښتانه په برخو وويشي خو پښتانه چې نه يوازې ګډ تاريخ، ګډه ژبه، او ګډ کلتور لري بلکې جغرافيائي وحدت هم جوړوی. دغه کرښه په عمل کې نده مراعت کړی او بې له پاسپورته يو د بل سره تګ راتګ لري. ځنګه چې د هند د نيمې وچې څخه د پيرنګيانو په وتلو سره د ډيورنډ تړون د ولسونو د حقوقو له مخې په اوتوماتيکه توګه د اعتباره لويدلی و ځکه چې په کومه موخه چې دغه تړون منځ ته راغلی وو هغه موخه له منځه تللې وه، نو د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند په 1993 ع کال د نوامبر په دولسمه نيټه دغه تړون چې هډو د اعتبار موده پکې نده ليکل شوی په رسمی توګه د تل لپاره لغوه اعلان کړ او د ردی کاغذونو ټوکرۍ ته ئې وغورځاوه او د نوامبر دولسمه نېټه ئې د پښتنو د يووالي د ورځې په نامه ونوموله، او هر کال د پښتنو د يووالي ورځ په مختلفو ښو کې لمانځي.

د نړيوالو خبری رسنيو په وينا د پاکستان اوسنی واکداران د ډيورند تش په نامه پوله باندې د اغزن تار لګولو او د ماينونو ښخولو ګوابښونه کوی، همدا راز د افغانستان په حکومت کې هم ځنې ډلې، کړۍ او اشخاص د پښتنو د قامي وحدت په لاره کې د خنډونو راپيدا کولو هڅه کوی چې مونږ يې په کلکه سره غندو. افغانستان د ورونو قومونو ګډ کور دی او پښتون ډيره کې قام او مشر ورور دی نو پکار ده چې د افغانستان ورونه قومونه د پښتنو د قامي وحدت ملاتړ وکړي. پښتانه چې يو وجود دی د اغزن تار او





ماينونو ښخولو په ناکامه هڅه نه شی بيليدلی.

که د افغانستان او پاکستان حکومتونو نه غواړي چې په سيمه کې امن او سوکالي وی نو د پښتنو د يووالي لپاره دی کوټلي ګامونه واخلي. مونږ د افغانستان په اوسنی حکومت کې د هغه پښتنو څخه چې د پښتنو د حق ترنامه لاندی د پښتنو برخه خوری او په دولتی کورسيو ناست دي په کلکه غوښتنه کوو چې د پښتنو د حقوقو دفاع وکړی او پښتو چې د هيواد د ډيره کی قام ژبه ده د ښونی، روزنی او د فتر ژبه کړی پښتو وکړی او په زغرده پښتو ووائی، پښتو وليکی ترڅو د پښتو حق ادا او خپله زمه واری تر سره کړی.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د ټولو پښتنو / افغانانو د پوهانو، سياستوالو، اديبانو، شاعرانو، ليکوالانو، ټولنيزو، ملی، ولسی او دولتی سرپيتوبونو (شخصيتونو) څخه غوښتنه کوی چې خپلې ژبې پښتو د ودې او پر مخ تګ لپاره کار وکړی چې نه يوازې پښتو ژبه مخ په وړاندی لاړه شی بلکه د پښتنو د قامی وحدت عزم پياوړی شی. قامی وحدت زمونږ فطری او قانونی حق دی.

پښتانه په سيمه کې يو ستر ځواک دی، سيمی ته ثبات او امنيت بخښی، پغير د پښتنو د قامی وحدت، سولی او ارامی څخه په دغه سيمه کې امن او سوکالي نه شی راتللی نو د پښتنو ټولنيز ولسوګوند د نړۍ د سوله غوښتونکو او ډيموکراتيکو هيوادونو او ځواکونو څخه په کلکه غوښتنه کوی چې د پښتنو په بيا يووالي کې مرسته وکړی. د پښتنو يووالي په سيمه کې د امن او ثبات ځامن دی.






که سپوره وي، که پوره په شريکه به وي. (باچا خان)

Das brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt. (Batscha Chan)

*Buttered or unbuttered bread will be common. (Bacha Khan)*



د هدف لپارې لارې لټوئ، خو د لارې لپاره هدف مه بدلوئ.

(ستوری)

# Redaktion: Editorial Board:

Gul Ghutai Kunarai
Ali Khan Mahsood (Maseed)
Hidayat Bangash
Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Nasir Stori